انجنیر سلطان جان کلیوال
۲۰۱۷/۱۲/۲۳

# یوه پوښتنه لرم:

په مــلائیکو د الله ج بانـدی ایمان لرمه
پـه کـتابـونـو د الله ج بانـدی ایمان لرمه
پـه رسـولانـو د الـلـه بانـدی ایمان لرمه

د وروستی ورځی په راتلو بانـدی باور لرمه
د خیر او شـر په حســابو بانـدی باور لرمه
وروسته له مرګ ژوندی کیدو باندی باور لرمه

هرڅوک چی دا باور لری نو مسلمان یی بولی
د خدای ج په لاره برابر مؤمن انسان یی بولی

** * **

چی په روژه کی د عظیم قرآن نزول لمانځمه
چیدولسم کی پیداینت دخپل رسول لمانځمه
چی اخترونه او د خپل اسلام اصول لمانځمه

چی په ملت د ابـراهـیم کی ګډ ادیان منمه
چی په دی لاره ټول راغلی رسولان منمه
چی هم تورات ، زبور، انجیل منم قرآن منمه

نوبیا د لاری د موسی ع نه ولی کرکه وکړم؟
بیاعیسویت اود عیسی ع نه ولی کرکه وکړم؟

** * **

کرسمس ولی د مولود په ډول نه لمانځمه؟
که څوک خوښې وکړي دی ورځ باندی کافربه وی؟
یا به اصـولو د اسلام ته څه تاوان ورسی؟

له مونږه ډیر عیسویان ولی دښمنان و ګڼم؟
ولی دا دومره انسانان ټول جاهلان و ګڼم؟
ولی دي ټولو نه بهتر می دا خپل ځان و ګڼم؟

که رښـتـیـا و وایـمـه ځان راته غلط ښکاری
هر مسلمان راته دی کارکی ملامت ښکاری

** * **

کرسمس ولی د مولود په ډول نه لمانځمه؟
چی هغوی ماتـه د اسلام د مقدسـو ورځـو
د انسانیت پـه نـامـه تـل مبارکـۍ راکـوي
نو زه بیا ولی دوی ته هم تبریکی نه وایمه؟
دا هم منو چی عیسی ع پاس په اسمانونوکی دی
لا هم ژوندی دی راروان دی نن سبا کی بیرته
کله چی راشی بیا نو څنګه مخامخ شو ورته؟
نو یم حیران چی مونږ کاره یو او که دوی کاره دی؟

** * **

ولی؟ په مینه کی له مونږ نه، دوی ډیر تاوده دی؟
له تکفیر پرته دی پوښتنو ته ځواب غواړمه
دا ځواب سم د پاک اسلام په پاک کتاب غواړمه

ډسمبر / ۱۸ / ۲۰۱۷
تورنتو ـ کانادا